بسم الله الرحمن الرحیم

# افریقا د کرونا په پرتله د استعمار له ویروس څخه ډېره ځورېږي

**خبر:**

کوویډ ۱۹ وبا په افریقا کې د ۲۰۲۰م کال د اپریل په ۸مه خپره شوه، تر اوسه یوازې دوه افریقایي هېواده ترې پاتې دي؛ خو د مثبتو پېښو او مرگونو شمېر یې ډېر په زیاتېدو دی.

**تبصره:**

دغې وبا نه یوازې دا چې په افریقا کې ټولنیز او روغتیایي ناورین راوړ، بلکې ویې ښوده چې د رعیت پر وړاندې د رهبرانو عاطفه کمه ده. همداراز یې له دې پرده پورته کړه چې د افریقا او غربي استعمارگرو تر منځ استعماري اړیکي دي؛ د استعمار یوازې بڼه بدله شوې، دوی د ځان پر ځای دلته له خپلو غلامانو څخه په خپله گټه کار اخلي.

د ۲۰۲۰م کال د اپریل په لومړۍ نېټه، د فرانسې د روغتیا د ملي انسټېټیوټ او روغتیایي څېړنو مرکز د څېړونکو مشر، کمېلي لاکټ او په پاریس کې د کاچېن روغتون د بېړنۍ پاملرنې د برخې مشر، جین پاول میرا، وړاندیز وکړ چې افریقا د کوویډ ۱۹ د واکسینو د ازمویلو لپاره ښه ځای دی. د فرانسوي ډاکټرانو دغه خبرې د ډېرو کسانو له نیوکو او غندنو سره مخ شوې او دا یې نژادپالې وبللې؛ خو د کانگو د ملي بیالوژیکي انسټېټیوټ مشر، جین جکس مویېمبي یې هرکلی وکړ.

مویېمبي رسنیو ته وویل: « موږ د دغه ټېسټ د مخته وړلو لپاره ټاکل شوي یو... » ده بیا وړاندیز وکړ چې «کلینیکي څېړنې په جولای یا اگېسټ کې پیل کېدای شي». (MSN 03/04/2020)

د مویېمبي دغو خبرو په کانگو او ټوله افریقا کې بحثونه راولاړ کړي. دغه حالت ښیي چې د افریقا رهبران د غربي استعمارگرو غلامي کوي او دې ته تیار دي چې د واک او ناڅیزه گټې لپاره خپل خلک وپلوري.

په داسې حال کې چې کانګو خپل خلک د فرانسوي استعمارګرو لپاره قرباني کوي، ځيني افريقايي چارواکي کپيټليزم او استعماري مفکورو سخت اغېزمن کړي، ځان تر نورو خلکو لوړ ګڼي او له قرنطين څخه سرغړونه کوي. دا په تانزانيا کې د بحث موضوع وه، په پارلمان کې هم وروسته له هغه بحث پرې وشو چې يوه زانزيبياوي وزير په قرنطين کې اوسېدل ونه منل؛ د کينيا د کيليفي ولايت د والي مرستيال هم همداسې وکړل. په بوتسوانا کې د پارلمان ځينو غړو هم د قرنطين اصول مات کړي، په دې توګه عامو خلکو ته د دغې وبا د خپرېدو خطر ډېرېږي. که څه هم له ډېرو غبرګونونو وروسته دولت دوی له کورونو را وايستل او له دولتي پاملرنې لاندې قرنطين کې يې وساتل.

دا ښيي چې د غربي استعمارګرو دغه ساتونکي سپيان څومره بې پروا دي؛ هم يې خپل خلک پلوري او هم د خپلو خلکو ژوند په خطر کې اچوي. تر اوسه ( د ۲۰۲۰م کال د اپرېل ۸مه) په افريقا کې د ۷۱۰۵ مثبتو پېښو او ۳۲۴ تنو د مړينې رپوټ ورکړل شوی.

په داسې حال کې چې افريقايي رهبران غربي کپيټليستي ايډيالوژۍ ته ژمن دي او د استعمارګرو بادارانو غلامي يې کوي او همداراز د دغه حقيقت په پام کې نيولو سره چې دغه استعماګر له پېړۍ زيات وخت راهيسې د افريقا ذخيرې استثماروي؛ دا به ډېر ساده فکر وي چې ووايو غربي کپيټليستان له افريقا سره د کوويډ-۱۹ وبا په له منځه وړلو کې جدي مرسته کوي.

افريقا له ګڼو سرتونزه سره مخ ده چې غربي استعمارګر دولتونه يې په مرسته کې پاتې راغلي؛ مثلاً لوږه، په افريقا کې ۲۵۷ ميليونه خلک له لوږې سره مخ دي(World Vision, 24/10/2019). بېوزلي؛ په افريقا کې د بېوزلو کسانو شمېر په ۱۹۹۰ کې له ۲۷۸ ميليونو څخه په ۲۰۱۵ کې ۴۱۳ ميليونه کسانو ته لوړ شوی ( WB, 09/10/2019). نور رپوټونو ښيي چې تر ۲۰۳۰ کال پورې به د دغې لوېې وچې ۹۰ سلنه خلک پاکو اوبو ته لاسرسی نه لري او داسې نور....

اوس يې وخت دی چې افريقا بايد راوېښه شي او وګوري چې کپيټليزم نه يوازې په افريقا، بلکې په ټوله نړۍ کې ناکام نظام دی. له بلې خوا، موږ دوی ته وريادوو چې افريقا له اوومې پېړۍ (۶۱۴م) وروسته د اسلام تر حاکميت لاندې خوندي او کامیابه وه. له هغه وخت راهيسي، ټولو افريقايي ولايو د اسلامي خلافت تر حاکميت لاندې له ژوند کولو خوند اخيسته او په لوږه کچه خوندي وو.

خلافت دولت د مسلمانانو په ساتنه کې ځان مسول ګڼي؛ په ۱۵۸۶م کال کې عثماني خلافت د جنرال مير علي بای تر مشرۍ لاندې يو لښکر واستاوه چې د ختيځې افريقا په ساحلي سيمو کې پر مسلمانانو د پرتګاليانو بريدونه ختم کړي.

## د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## سيد بيتوموا

## په تانزانيا کې د حزب التحرير مطبوعاتي دفتر غړی